# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدليې وزارت

# رسمي جریده

• د بهرنیو دولتونو پر سیاسی نمایند ګیـــو او نړیوالو مؤسسو باندی د عقار دپلورنې قانون

• د عدلي طب قانون

•قانون فروش عقاربه نماینـــده گـــی هـــای سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی

•قانون طب عدلی

د خپریدو نېټه:د ۱۳۸۷ هــ .ش کال د غبرګولي د میاشتې (۲۹)

پرله پسې نمبر: (۹۴۷)

تاریخ نشر : (۲۹) جوزا سال ۱۳۸۷ هــ . ش

نمبر مسلسل: (۹۴۷)

Download from:aghalibrary

**در این شماره :**

**۱- فرمان شماره (۳۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۲۷ رئیس ج.ا.ا در بارهٔ توشیح قانون فروش عقار به نماینده گی های سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی .**

**۲- قانون فروش عقار به نمایند گی های سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی از صفحه (۱- ۱۰).**

**۳- فرماه شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۲۷ رئیس ج.ا.ا در بارهٔتوشیح قانون طب عدلی.**

**۴- قانون طب عدلی از صفحه (۱۱- ۳۴).**


د امتیاز خاوند: دعدلیې وزارت

وب سـایت: www.moj.gov.af

مسؤول چلوونکی: عبدالرشید "قیومي"

د دفتـر تیلـفون: ۲۱۰۳۳۷۵

۰۷۰۰۲٦۰۲۷۴ - ۰۷۰۰۰۱۱۸۳۸

مرستـیـال: نور عـلـم

۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتـمـم: محـمد جـان

۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

قیمت این شـماره : (۴۰) افغاني

تیـراژ چاپ اول: (۴۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

**دبهرنيودولتونو پرسياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو باندې دعقار د پلورنې دقانون په هکله دملي شورې د مجلسونو دګډ هيئت دفيصلې په باره کې، دافغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

**ګڼه :(۳۳)**

**نېټه :۱۳۸۷/۳/۲۷**

**لومړۍ ماده :**

دافغانستان داساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د شپاړسمې فقرې د حکم له مخې ،دبهرنيو دولتونو پرسياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو باندې دعقار د پلورنې قانون چې دملي شورې د ګډ هيئت د ۱۳۸۷/۳/۸ نېټې له (۸۵) ګڼه فيصلې سره سم ،د اساسي قانون د (۱۰۰) مادې

**فرمان**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان دربارۀ فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی پيرامون قانون فروش عقار به نمايندگی های سياسی دول خارجی و مؤسسات بين المللی**

**شماره :(۳۳)**

**مؤرخ:۱۳۸۷/۳/۲۷**

**مادۀ اول :**

به تأسی از حکم فقرۀ شانزدهم مادۀ شصت و چهارم قانون اساسی افغانستان ، قانون فروش عقار به نمايندگی های سياسی دول خارجی و مؤسسات بين المللی را که برحسب فيصلۀ شماره (۸۵) مؤرخ۱۳۸۷/۳/۸ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی، طبق حکم مادۀ (۱۰۰) قانون اساسی

دحکم مطابق تصويب شوی دی ، توشېح کوم .

دوه يمه ماده :

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او له فيصلې سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

حامد کرزی

دافغانستان د اسلامي

جمهوريت رئيس

تصويب گرديده است ، توشيح ميدارم .

مادۀ دوم :

اين فرمان ازتاريخ توشيح نافذ و همراه با فيصله درجريدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی

افغانستان

**دافغانستان اسلامي جمهوريت**

**ملي شوري**

**دبهرنيو دولتونو پر سياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو باندې د عقار دپلورنې د قانون په اړه د ملي شوري مصوبۀ**

**ګڼه :(۸۵)**

**نېټه :۱۳۸۷/۳/۸**

**داساسي قانون د سلمې مادې د حکم پر بنسټ ،دملي شـــوري ګډه هيئت (د هرې جرګې له درې درې غړوڅخه جوړ) دبهرنيو دولتونو پر سياسي نمايندګيو او نړيوالـــو مؤسسو باندې د عقار د پلورنې د قانون طرحه په (۳) فــصلونو او**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مصوبۀ شورای ملی درمورد قانون فروش عقار به نمایندگی های سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی**

**شماره: (۸۵)**

**مؤرخ : ۱۳۸۷/۳/۸**

**مطـــابق حکـــم مـــادۀ صـــدم قانون اساسی ، هیئت مخـــتلط شورای ملی (مرکب از سه ســـه عـــضواز هرجرگـــه ) طـــرح قانون فروش عقار به نماینـــدگی های سیاســـی دول خـــارجی و مؤسسات بین المللـــی را بـــه**

(۱۴) مادوکې د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي د میاشتې په اتمه نېټــه تصویب کړه.

تاریخ (۸) مــاه جــوزا ســال ۱۳۸۷ در (۳)فـــصل و (۱۴) ماده تصویب نمود .

د ګډ هیئت رئیس
محمد علم ایزدیار

رئیس هیئت مختلط
محمد علم ایزدیار

د ګډ هیئت مرستیال
محمد نور اکبری

معاون هیئت مختلط
محمد نور اکبری

## فهرست مندرجات

## قانون فروش عقار، به نمایندگی های سیاسی دول خارجی ومؤسسات بین المللی

### فصل اول

### احکام عمومی


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اصطلاحات | ۱ |
| مادۀ سوم: | ساحۀ دیپلوماتیک | ۳ |
| مادۀ چهارم: | هدف فروش | ۴ |
| مادۀ پنجم: | منع خرید عقار از اتباع | ۴ |


### فصل دوم

### فروش عقار


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم: | طرزفروش | ۴ |
| مادۀ هفتم: | منع فروش عقار | ۵ |
| مادۀ هشتم: | سند فروش عقار | ۶ |
| مادۀ نهم: | مکلفیت ها | ۶ |


### فصل سوم

### احکام نهایی


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ دهم: | تعویض ملکیت | ۷ |

**مادۀ یازدهم: کشف معادن درملکیت عقاری....................۷**
**مادۀ دوازدهم: استرداد ملکیت ................................. ۸**
**ماده سیزدهم: مدت اجاره ......................................۹**
**ماده چهاردهم: تاریخ انفاذ.......................................۱۰**

بسم الله الرحمن الرحيم

## دبهرنيو دولتونو پرسياسي نماينده‌گيو او نړيوالو مؤسسو باندې دعقار دپلورنې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون دافغانستان داسلامي جمهوريت داساسي قانون د يوڅلويښتمې مادې د حکم له مخې دبهرنيو دولتونو پرسياسي نماينده‌گيو او نړيوالو مؤسسو باندې چې افغانستان يې غړی وي ،دعقار د پلورنې د اړوندو چارودتنظيم په منظور وضع شوی دی.

**اصطلاحگانې**

**دوه يمه ماده:**

دغه اصطلاحگانې پدې قانون کې دلاندنيو مفاهيمو لرونکې دي:

## قانون فروش عقار به نمایندگی های سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول :**

این قانون به تأسی از حکم مادهٔ چهل و یکم قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به فروش عقار به نمایندگی های سیاسی دول خارجی و مؤسسات بین المللی که افغانستان عضوآن باشد، وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادهٔ دوم:**

اصطلاحات آتی درین قانون دارای مفاهیم ذیل می باشد :

**۱–سياسي نماينـدګۍ:دبهرنيـو دولتونوهغـه سـفارتخانه يـا قونسلګري ده چې دمتبوع هېـواد دبهرني سياست دپلي کولو او لـه مشروعو اوقانوني حقوقواوګټوڅخه ددفاع په مقـصد ،دافغانـستان د اسلامي جمهوريت په دننـه کـې جوړيږي.**

**۲– نړيوالې مؤسسې:دملګروملتونو پـه مؤسـسه يـانوروهغونړيوالو مؤسسو پـورې تړلـي نړيـوا ل سازمانونه دي چې افغانستان يـې غړى وي.**

**۳– عقار: غيرمنقـول ملکيتونـه لکه ځمکه، کوراو اپارتمان دي.**

**۴–بالمثله چلند : د دووهېوادونو تر منځ دسياسي نمايندګۍ دجوړولو لپاره دعقاري ملکيتونودپلورلو پـه اړه متقابل او ورته چلند دى .**

**۵– مقاوله: دافغانستان دبهرنيـو چارو وزارت اود سياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو تر منځ د اړوندو**

**۱– نمايندگی سياسی: سـفارت خانه يا قونسلگری دول خـارجی است که درداخل جمهوری اسلامی افغانستان به مقصد تحقق اهـداف سياست خارجی ودفاع از حقـوق منـافع مـشروع و قـانونی کـشورمتبوع تأسـيس مـی گردد.**

**۲– مؤسسات بين المللی: ادارات وابسته به سـازمان ملـل متحـد ياساير سازمانهای بـين المللـی است کـه افغانـستان عـضوآن باشد .**

**۳– عقار: ملکيت های غير منقول اعم از زمين،خانه وآپارتمان می باشد.**

**۴– رويۀ بالمثل : رويۀ متقابل و متشابه دررابطه به فروش ملکيـت هـای عقاری جهت تأسيس نمايندگی سياسی بين دوکشور می باشد.**

**۵– مقاوله:عقديست ميان وزارت امورخارجه افغانستان و نمايندگی های سياسی و مؤسـسات بـين**

ودانيو دتأسيس او ودانولـــو پـــه منظور ،دعقـــاردپلورنې پـــه اړه عقد دی.

**دپلوماتيکه ساحه**

**درېيمه ماده:**

(۱) دبهرنيو چارو وزارت ،دښـــار جوړولو او مـــسکن د وزارت او ښاروالیو په همکـــارۍ دسياســـي نمايندګیواونړیوالومؤسسو ددفترونو ودانولوپـــه منظور،يـــوه ټـــاکلې ساحه(ديپلوماتيکه ساحه) برابروي اوددې قانون دحکمونو مطابق يې دهغو په واک کې ورکوي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ســـاحه پـــه اشخاصو پورې اړه ولري ،نوموړې ساحه دقانون د حکمونو مطـــابق استملاک کېږي.

(۳) دماليې وزارت ددې مادې په (۲)فقره کې ددرج شوې ســـاحې داستملاک په منظورمالي وجـــوه

المللی مبنی برفروش عقار به منظور تأسيس و اعمار ســـاختمان هـــای مربوط .

**ساحۀ ديپلوماتيک**

**مادۀ سوم :**

(۱) وزارت امـــور خارجـــه بـــه همکـــاری وزارت شهرســـازی و مسکن و شاروالی ها ساحۀ معـــين (ساحۀ ديپلوماتيک) را به منظـــور اعمار دفـــاتر نماينـــدگی هـــای سياسی و مؤسسات بين المللـــی تهيه و طبق احکـــام ايـــن قـــانون بدسترس آنها قرارمی دهد.

(۲) هرگاه ساحۀ منـــدرج فقـــرۀ (۱) اين ماده مربوط به اشـــخاص باشـــد ســـاحۀ متـــذکره مطـــابق احکام قانون ، اســـتملاک مـــی گردد.

(۳) وزارت ماليه وجوه مالی را به منظوراستملاک ســـاحۀ منـــدرج فقرۀ (۲) اين ماده تـــدارک مـــی

برابروي.

## دپلورنې موخه

**څلورمه ماده:**

پرسیاسي نمایندګیو او نړیوالو مؤسسو باندې دعقار پلورل ،یوازې دهغوی ددفترونو د ودانۍ او ملحقاتو دتأسیسولو او ودانولو په منظور صورت مومي.

## له اتباعوڅخه دعقار د پېرودنې منع

**پنځمه ماده:**

سیاسي نمایندګۍ او نړیوالې مؤسسې نشي کولای مستقیماًله افغاني اتباعو څخه عقاروپېرې.

## دوه یم فصل

## دعقار پلورل

## دپلورلو ډول

**شپږمه ماده :**

(۱) پرسیاسي نمایندګیو باندې دعقار پلورل ،ددې قانون دحکمونو له په پام کې نیولوسره ،دبهرنیو

نماید.

## هدف فروش

**مادۀ چهارم:**

فروش عقار به نمایندگی های سیاسی و مؤسسات بین المللی صرف به منظور تأسیس واعمار ساختمان های دفاتر و ملحقات آنها صورت می گیرد.

## منع خرید عقار از اتباع

**مادۀ پنجم:**

نمایندگی های سیاسی و مؤسسات بین المللی نمی توانند عقار را مستقیماً از اتباع افغانی خریداری نمایند.

## فصل دوم

## فروش عقار

## طرزفروش

**مادۀ ششم :**

(۱) فروش عقار به نمایندگی های سیاسی با رعایت احکام این قانون به پیشنهاد وزارت امور

چـــارو وزارت پـــه وړانـــديز اود جمهور رئيس په منظورۍ ،د بالمثله چلند پر بنسټ صورت مومي.

(۲) پر نړيوالو مؤسسو بانـــدې د عقار پلورل ،د دې قـــانون دحکمونـــو له په پام کې نيولوسره ،دبهرنيـــو چارو وزارت په وړانـــديز او د جمهـــور رئيس په منظورۍ صورت مومي.

(۳)دعقـــار د پلـــورنې وجـــه د دولت دعوايدوپه حساب بانـــک ته تحويلېږي.

## دعقاردپلورلومنع

اوومه ماده:

سياســـي نماينـــدګۍ اونړيـــوالې مؤســـسې چـــې ددې قـــانون د حکمونو مطابق عقار ملکيت لاسته راوړي ، نشي کولای هغـــه پـــه نوروسياسي نمايندګيو ، نړيوالـــو مؤسسواو کورنيو يا بهرنيو اتباعو باندې وپلوري يـــايې پـــه اجـــاره ورکړي.

خارجه و منظوری رئيس جمهـــور به اساس رويهٔ بالمثـــل صـــورت می گيرد.

(۲) فروش عقار بـــه مؤســـسات بين المللی با رعايت احکام ايـــن قـــانون بـــه پيـــشنهاد وزارت امورخارجه و منظـــوری رئـــيس جمهورصورت می گيرد.

(۳) وجه فروش عقار به حـــساب عوايـــد دولـــت تحويـــل بانـــک می گردد.

## منع فروش عقار

مادهٔ هفتم :

نمايندگی های سياسی و مؤسسات بين المللـــی کـــه طبـــق احکـــام ايـــن قانون ملکيـــت عقـــار را بدســـت می اورند ،نمی توانند آنرا بـــالای ساير نمايندگی هـــای سياســـی ، مؤسسات بين المللی واتباع داخلی يا خارجی به فروش برســـانند يـــا بـــه اجاره بدهند.

**دعقاردپلورنې سند**

**اتمه ماده :**

سياسي نمايندګيويا نړيوالو مؤسسو ته دعقاري ملکيت لېږدېدل ،د شرعي سند پربنسټ (دمحصول له اخستلووروسته) چې د عقاردسيمې دمحکمې په واسطه ترتيبېږي ، د قانون دحکمونو مطابق صورت مومي.

**مکلفيتونه**

**نهمه ماده:**

سياسي نمايندګۍ او نړيوالې مؤسسې د اړوندو ودانيو دجوړولو په وخت کې دلاندې مکلفيتونو لرونکې دي :

۱– دافغانستان داسلامي جمهوريت دقوانينو ،مقرراتواوښاري پلانونو په پام کې نيول.

۲– د ودانۍ له بشپړېدو سره په يوه وخت کې داړوندو ساحوسمسورول .

۳– دپارکنګ او اړوندو پلولارو

**سند فروش عقار**

**مادۀ هشتم :**

انتقال ملکيت عقاربه نمايندگی های سياسی يا مؤسسات بين المللی به اساس سند شرعی (بعد از اخذ محصول) که توسط محکمۀ محل عقار ترتيب می گردد، مطابق احکام قانون صورت می گيرد.

**مکلفيت ها**

**مادۀ نهم:**

نمايندگی های سياسی و مؤسسات بين المللی حين اعمار ساختمان های مربوط دارای مکلفيت های ذيل می باشند :

۱– رعايت قوانين ، مقررات و پلان های شهری جمهوری اسلامی افغانستان .

۲– سرسبزی ساحات مربوط همزمان با اکما ل ساختمان .

۳– قيرريزی ساحات پارکنگ و

دساحوقيركول.

۴- ښاروالۍ ته دوېــزې لپــاره د ودانيزو نقشو وړاندې كول.

۵- ترپنځوكلونو مــودې پــورې دودانيزكاربشپړول. پرتــه لــدې نومورې ځمكه مستردېږي.

## درېيم فصل

## وروستني حكمونه

**د ملكيت بدلول**

**لسمه ماده :**

هغه سياسي نمايندګۍ اونړيــوالې مؤسسې چــې دښــارپه مختلفــو ځــايونوكې عقــاري ملكيــت ولري،كولاى شي هغه دبهرنيوچارو وزارت په موافقه دشرعي سند پــر بنسټ ،په ديپلوماتيكه ساحه كې له ځمكې سره بدله كړي.

**په عقاري ملكيت كې دكانونو كشف**

**يوولسمه ماده :**

كه چېرې په عقارې ملكيت كــې

پياده رو های مربوط.

۴- ارائهٔ نقشه هــای ســاختمانی جهت ويزه به شاروالی .

۵- اكمال كار ســاختمانی الــی مدت پنج سال . درغير آن زمــين مذكور مسترد می گردد.

## فصل سوم

## احكام نهايی

**تعويض ملكيت**

**مادهٔ دهم :**

نمايندگی های سياسی و مؤسسات بين المللی كه درنقاط مختلف شهر ملكيت عقاری داشته باشند ، مــی توانند آنرا به موافقهٔ وزارت امــور خارجه به اساس سند شــرعی بــا زمين درساحهٔ ديپلوماتيک تعويض نمايند.

**كــشف معــادن درملكيــت عقاری**

**مادهٔ يازدهم :**

هرگاه درملكيت عقاری كه مطابق

چې ددې قانون دحکمونو مطابق پرسیاسي نمایندګیو یا نړیوالو مؤسسوباندې پلورل شوی دی، کان یا لرغوني اوتاریخي آثار کشف شي ،عقار،کشف شوی کان او لرغوني اوتاریخي آثار دافغانستان د دولت ملکیت دي او په بدل کې، اړوندې سیاسي نمایندګۍ ، نړیوالې مؤسسې ته بل عقار ورکول کېږي.

## دملکیت استرداد

دوولسمه ماده :

(۱) که چېرې ددوو هېوادونوتر منځ دیپلوماتیک مناسبات پرې (قطع) شي اوترګټې اخستنې لاندې عقاري ملکیت ته اړه و نه لیدل شي،د ملکیت استرداد یا دوام بالمثل چلند پربنسټ صورت مومي.

(۲) که چېرې دافغانستان په قلمرو کې دنړیوالې مؤسسې فعالیت پای ته ورسېږي ،اړوندعقاري ملکیت

احکام این قانون به نمایندگی سیاسی یا مؤسسۀ بین المللی به فروش رسیده ، معدن یا آثار باستانی و تاریخی کشف گردد، عقار ، معدن وآثار باستانی وتاریخی کشف شده ملکیت دولت افغانستان بوده ودرعوض به نمایندگی سیاسی ، مؤسسۀ بین المللی مربوط عقار دیگر داده می شود .

## استردادملکیت

مادۀ دوازدهم :

(۱) هرگاه مناسبات دیپلوماتیک بین دوکشور قطع و به ملکیت عقار مورد استفاده ، ضرورت احساس نگردد، استرداد یا دوام ملکیت به اساس رویۀ با لمثل صورت می گیرد.

(۲) هرگاه فعالیت مؤسسۀ بین المللی درقلمروافغانستان اختتام یابد ، ملکیت عقاری مربوط

دنومورې مؤسسې لخوا دقانون دحکمونوسره سم دبهرنيو چارو وزارت ته پرېښودل کېږي.

(۳) دبهرنيوچارو وزارت کولای شي ددې مادې په(۱ او۲) فقره کې درج شوي ملکيتونه ددې قانون دحکمونو مطابق پرنوروسياسي نمايندګيو يا نړيوالو مؤسسو باندې و پلوري يا يې په اجاره ورکړي.

## داجارې موده

**ديارلسمه ماده :**

(۱) دعقار اجاره دبهرنيو چارو وزارت او سياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو ترمنځ دمقاولې پر بنسټ تر(۵۰) کلونو مودې پورې، صورت موندلی شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې موده د اړخونوپه موافقه تمديدېدلی شي.

(۳) که چېرې دسياسي نمايندګيو او نړيوالو مؤسسو عقاري

---

از طرف مؤسسهٔ مذکورمطابق به احکام قانون به وزارت امورخارجه واگذارمی گردد.

(۳) وزارت امور خارجه می تواند ملکیت های مندرج فقره های (۱و۲) این ماده را به سایر نمایندگی های سیاسی یا مؤسسات بین المللی مطابق احکام این قانون بفروش رساند یا اجاره دهد.

## مدت اجاره

**مادهٔ سیزدهم :**

(۱) اجاره عقار به اساس مقاوله بین وزارت امور خارجه و نمایندگی های سیاسی و مؤسسات بین المللی برای مدت الی (۵۰) سال صورت گرفته میتواند.

(۲) مدت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به موافقهٔ طرفین تمدید شده می تواند .

(۳) هرگاه ملکیت های عقاری نمایندگی های سیاسی و مؤسسات

ملکيتونه، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوې موده کــې ، د ناڅاپي پېښو له امله زيانمن يا ويجاړ شي ،دافغانستان دولت د زيان پــه جبرانولو مکلف ندی .

دانفاذ نېټه

څوارلسمه ماده :

دغه قانون دتوشېح له نېټې څخــه نافذ اوپه رسمي جريده کــې دې خپورشي.

بين المللی درميعاد مندرج فقــرۀ (۱) اين ماده از اثر حوادث غيــر مترقبه خساره منديا تخريب گردد، دولت افغانستان مکلف به جبران خساره نمی باشد.

تاريخ انفاذ

مادۀ چهاردهم :

ايــن قــانون ازتــاريخ توشــيح نافذ و درجريــدۀ رســمی نــشر می گردد.

دعدلي طب دقانون دتوشېح
په هکله دافغانستان داسلامي
جمهوريت درئيس
فرمان

ګڼه : (۳۵)
نېټه : ۱۳۸۷/۳/۲۷

لومړۍ ماده :

د افغانستان داساسي قانون د(٦۴) مادې په شپاړسمه فقره او(۱۰۰) ماده کې د درج شوی حکم له مخې ،دعدلي طب قانون چې دملي شوري دمجلسونو دګډ هیئت د ۱۳۸۷/۳/۸نېټې له (۸۷) ګڼې فيصلې سره سم په (۴) فصلونواو (۳۵) مادوکې تصويب شوی دی ، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه

فرمان رئيس جمهوری
اسلامی افغانستان
دربارۀ توشيح
قانون طب عدلی

شماره : (۳۵)
تاريخ : ۱۳۸۷/۳/۲۷

مادۀ اول :

به تأسی از حکم مندرج فقره شانزدۀ مادۀ (٦۴) ومادۀ (۱۰۰) قانون اساسی افغانستان، قانون طب عدلی را که برحسب فيصله شماره (۸۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۸ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بداخل (۴) فصل و(۳۵) ماده تصويب گرديده است ، توشيح ميدارم .

مادۀ دوم :

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ

نافذ او له فيصلې سره یوځــای دې په رسمي جريده کې خپور شي .

حامد کرزی

دافغانستان داسلامی

جمهوريت رئیس

وهمراه با فیــصله در جریـــدهٔ رسمی نشر گردد .

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی

افغانستان

**دافغانستان اسلامي جمهوریت**

**ملی شوري**

**دعدلي طب دقانون په هکله**

**دملي شوري مصوبه**

**گڼه : (۸۷)**

**نېټه : ۱۳۸۷/۳/۸**

داساسي قانون دسلمې مادې دحکم مطابق ، دملي شوري گډه هیئت (له هری جرگې څخه پنځه پنځه غړی )دعدلي طب قانون په (۴) فصلونو او(۳۵) مادوکې د۱۳۸۷ کال دغبرگولي دمیاشتی په ۸ نېټه تصویب کړ.

سلطان جان خاکسار

دگډ هیئت رئیس

داکتر نعمت الله

دگډ هیئت مرستیال

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مصوبۀ شورای ملی درمورد**

**قانون طب عدلی**

**شماره :(۸۷)**

**تاریخ :۱۳۸۷/۳/۸**

مطابق حکم مادۀ صدم قانون اساسی ، هیئت مختلط شورای ملی ( مرکب از پنج پنج عضو از هر جرگه ) قانون طب عدلی را به تاریخ ۸ ماه جوزا سال ۱۳۸۷ در (۴) فصل و (۳۵) ماده تصویب نمود .

رئیس هیئت مختلط

سلطان جان خاکسار

معاون هیئت مختلط

داکتر نعمت الله

## فهرست مندرجات قانون طب عدلی


| مواد | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۱۲ |
| مادهٔ چهارم: | رایگان بودن معاینات | ۱۴ |
| مادهٔ پنجم: | همکاری با متخصص طب عدلی | ۱۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **وظایف و صلاحیت ها** | |
| مادهٔ ششم: | ارایه نظر مسلکی | ۱۵ |
| مادهٔ هفتم: | اشتراک متخصص طب عدلی درانجام معاینات | ۱۵ |
| مادهٔ هشتم: | اشتراک به صفت اهل خبره | ۱۶ |
| مادهٔ نهم: | ارایهٔ توضیحات | ۱۶ |
| مادهٔ دهم: | صلاحیت متخصص طب عدلی | ۱۷ |
| مادهٔ یازدهم: | ارایهٔ معلومات اضافی | ۱۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | ارسال مواد غرض معاینات لابراتواری | ۱۸ |
| مادهٔ سیزدهم: | ارایهٔ گزارش | ۱۸ |
| مادهٔ چهاردهم: | احصائیه گیری | ۱۹ |
| مادهٔ پانزدهم: | حتمی بودن اشتراک متخصص دراجرای معاینات | ۱۹ |
| مادهٔ شانزدهم: | ارتقای سطح دانش مسلکی | ۲۰ |

## فصل سوم

## معاینات عدلی طبی

مادۀ هفدهم: ابراز نظر توسط متخصص دیگر..............۲۱
مادۀهجدهم: انواع معاینات عدلی طبی.......................۲۱
مادۀ نزدهم: اجرای معاینات تکمیلی ومکرر.................۲۲
مادۀ بیستم: مکلفیت آمرین ادارات صحی...................۲۳
مادۀبیست ویکم: محتوای مقدمۀنظریه...............................۲۳
مادۀ بیست ودوم: محتوای گزارش عدلی طبی.....................۲۵
مادۀ بیست وسوم: محتوای نتیجۀ گزارش عدلی طبی..............۲۷
مادۀ بیست وچهارم: زمان ارایۀ مقدمه ، تشریح و نتیجه..............۲۸
مادۀ بیست وپنجم: مدت اجرای معاینه و تشخیص....................۲۹

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ بیست وششم: امتیاز تشویقی.......................................۳۰
مادۀ بیست وهفتم: شمولیت درکادرعلمی...........................۳۱
مادۀ بیست وهشتم: حالات عدم اشتراک درمعاینات.................۳۱
مادۀ بیست ونهم: عدم افشای معلومات محرم.....................۳۱
مادۀ سی ام: تنظیم لوایح.........................................۳۲
مادۀ سی ویکم: حضورپولیس ،څارنوال وسایراشخاص حین اجرای معاینا ت .......................................۳۲
مادۀ سی ودوم تطبیق احکام قانون...............................۳۳

**مادهٔ سی وسوم** **تعقیب عدلی......................................۳۳**
**مادهٔ سی وچهارم** **مهراداره ........................................۳۴**
**مادهٔ سی وپنجم** **انفاذ.............................................۳۴**

بسم الله الرحمن الرحيم

## دعدلي طب قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړی ماده:**

دغه قانون د عامي روغتيا د قانون په يو ديرشمه مــاده کــي د درج شوي حکم له مخي د عدلي طــب په خدمتونو پوري د اړوندو چارو د تنظيم او دجزايي او مدني قضيو په اړه چي د عدلي او قضايي مراجعو له لاري د عدلي طب دخـــدمتونو ادارو ته وړاندي کيږي، دمسلکی نظردخرگندولو پــه تــرخ کــي دعدالت دښه تأمينيدوپه منظــور ، وضع شوی دی.

**موخي**

**دوه يمه ماده:**

دعدلي طــب دخـــدمتونو اداره د

## قانون طب عدلی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول :**

این قـــانون بـــه تأســـی ازحکـــم مندرج مادهٔ سی ویکـــم قـــانون صحت عامه بـــه منظـــور تنظـــيم امور مربوط به خدمات طب عدلی وتـــأمين بهتـــر عـــدالت حـــين ابراز نظر مسلکی در رابطـــه بـــه قضايای جزايـــی ومـــدنی کـــه از طريق مراجع عدلی وقضائی بـــه ادارات خـــدمات طـــب عـــدلی ارائه می شود،وضـــع گرديـــده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم :**

ادارهٔ خـــدمات طـــب عـــدلی

لاندي موخو د تأمينولو په مقصد فعاليت کوي:

۱–عدلي اوقضايي مراجعو ته دطبي اسانتياوو برابرول د واقعيت دکشف په منظور .

۲–دعدلي طب دتخصصي مهارتونو اجراء کول.

۳–د روزنيزو او څيړنيزو پروگرامونو پراختيااو لوړول.

<u>اصطلاحگاني</u>

**دريمه ماده:**

پدي قانون کي لاندي اصطلاحگاني دغه معناوي لري:

۱–متخصص: هغه شخص دی چي په اختصاصي رشته کي د علمي معتبرسندلرونکی وي.

۲–طبيب :هغه شخص دی چي دطب په رشته کې دتحصيلي فراغت سند (طبي ديپلوم) دهيواد له دننه يا بهرنيو تحصيلي مؤسسو څخه چې دلوړو زده کړو د وزارت

بمقصد تأمين اهداف ذيل فعاليت می نمايد :

۱– فراهم آوری تسهيلات طبی به مراجع عدلی وقضايی جهت کشف واقعيت .

۲– اجرای مهارت های تخصصی طب عدلی.

۳– توسعه و ارتقای پروگرام های تربيوی وتحقيقی.

<u>اصطلاحات</u>

**مادۀ سوم :**

اصطلاحات آتی دراين قانون معانی ذيل را افاده می نمايد:

۱– متخصص : شخصی است که در رشتۀ اختصاصی دارای سند معتبرعلمی باشد.

۲– طبيب : شخصی است که دارای سند فراغت تحصيلی در رشتۀ طب (ديپلوم طبی) ازمؤسسات تحصيلی داخلی يا خارجی مورد تائيد وزارت

دتائید وروی لرونکی وي.

۳–دعدلي طب متخصص:هغه طبي متخصص دی چي د عدلي طب په رشته کي هم د علمي تخصصي معتبر سندلرونکی وي.

۴–دعدلي طب تخصصي کتني: هغه لازمي کتني او تحقیقات چي په جزایي او مدني قضیو کي د عدلي طب دمتخصص لخوا سرته رسیږي.

۵–دعدلي طب رپوټ: هغه لیکلی رسمي سند دی چي دعدلي طب د تخصصي کتنولـه سرته رسولو وروسته، دعدلي طب دمتخصص په واسطه برابر او تنظیمیږي او سریزه ، تشریح او پایله پکي شامل وي .

٦–دعدلي طب تکنیشن:هغه شخص دی چي له یوي کورنۍ یا بهرنۍ طبي مؤسسي څخه دفني یا طبي لابراتواردتحصیلي سند لرونکی وي.

تحصیلات عالی باشد.

۳– متخصص طب عدلی : متخصص طبی است که در رشتهٔ طب عدلی نیز دارای سند معتبر علمی تخصصی باشد.

۴– معاینات تخصصی طب عدلی : معاینات وتحقیقات لازم که درقضایای جزایی ومدنی ازطرف متخصص طب عدلی انجام داده می شود.

۵– گزارش طب عدلی : سندرسمی کتبی است که بعداز انجام معاینات تخصصی طب عدلی توسط متخصص طب عدلی تهیه وتنظیم گردیده ، شامل مقدمه ، تشریح ونتیجه باشد.

٦– تکنیشن طب عدلی : شخصی است که دارای سند تحصیلی فنی یالابراتوار طبی یکی از مؤسسات طبی داخلی یا خارجی باشد.

**۷-دعدلي طب فني کارکوونکی:**
**هغه شخص دی چي فني خاصي ښووني یي دعدلي طب دمتخصص ترنظرلاندي تیري کړي وي ، دعدلي طب دتصدیق لیک لرونکی وي او دجسد د داخلي کتنو اوحیاتي پیښوپه خونه کي دنده سرته ورسوي.**

**۸- اتوپسي(دجسدداخلي کتني):**
**هغه عملیه ده چي پکي دجسد داخلي کتني اجراء کیږي او دجسد داخلي جوفونه تشریح کوي.**

**۹-امبولاتوري:حیاتي پیښي دي چي دعدلي اوقضایي مراجعو لخوا دعدلي طبي کتنواونظرڅرګندولو لپاره سپارل کیږي.**

**دکتنو وړیاتوب**

**څلورمه ماده:**
**عدلي طبي تخصصي کتني په**

**۷- کارکن فنی طب عدلی :**
**شخصی است که تعلیمات خاص فنی راتحت نظرمتخصص طب عدلی سپری نموده ، دارای تصدیق نامۀ طب عدلی بوده و دراتاق معاینات داخلی جسد وواقعات حیاتی انجام وظیفه نماید .**

**۸-اتوپسی(معاینات داخلی جسد): عملیۀ است که درآن معاینات داخلی جسد اجراگردیده واجواف داخلی جسد را تشریح می نماید.**

**۹- امبولاتوری:واقعات حیاتی است که ازطرف مراجع عدلی وقضایی جهت معاینات عدلی طبی و ابرازنظر محول می گردد .**

**رایگان بودن معاینات**

**مادۀ چهارم :**
**معاینات تخصصی عدلی طبی طور**

وړياتوګه د دولــت پــه لګــښت صورت مومي.

**دعدلي طب له متخصص سره همکاري**

**پنځمه ماده:**

دهيواد روغتيايي مؤسسي او اړوند طبيبان مکلف دي، داړتيا په وخت کي،دعدلي طب له متخصص سره کلکه همکاري وکړي.

## دوه يم فصل

## دندي او واکونه

**دمسلکي نظر وړاندي کول**

**شپږمه ماده:**

دعدلي طب متخصص مکلف دی، دهرډول طبــي عـــدلي کتنـــو او تشخيص په هکله خپل مسلکي نظر وړاندي کړي.

رايگان به مصرف دولت صـــورت می گيرد.

**همکـــــاری بامتخـــــــصص طب عدلی**

**مادۀ پنجم :**

مؤسسات صحی کشور وطبيبان مربوط مکلف اند،حين ضرورت، بامتخصص طب عدلی همکـــاری جدی نمايند.

## فصل دوم

## وظايف وصلاحيت ها

**ارايۀ نظرمسلکی**

**مادۀ ششم :**

متخصص طب عدلی مکلف است، راجع به هرنوع معاينات وتشخيص عدلی طبی نظرمـــسلکی خـــود را ارايه نمايد.

**د كتنو په سرته رسولو كي دعدلي طب دمتخصص ګډون**

**اوومه ماده:**

دعدلي طب متخصص ،دپوليس ، څارنوال،قاضي يا نورو قانوني واكمنو مراجعو دغوښتني په وخت كي دپيښي دځاى او دقبردنبش په كتلو كي په ګډون مكلف دى.

**داهل خبره(پوهانو)په توګه ګډون**

**اتمه ماده :**

دعدلي طب متخصص دكتنو او تشخيص په چارو كي داهل خبره په توګه،د جزايي اجراآتو د قانون دحكمونو مطابق ګډون كوي ،د جرم په كشف او دهغهٔ د اثباتيه مداركو په لاسته راوړلو كي مرسته كوي.

**دځرګندونو وړاندي كول**

**نهمه ماده:**

دعدلي طب متخصص مكلف دى،د

**اشتراک متخصص طب عدلی درانجام معاینات**

**مادهٔ هفتم :**

متخصص طب عدلی حین مطالبهٔ پولیس ، څارنول ، قاضی یا سایر مراجع ذیصلاح قانونی مکلف به اشتراک در مشاهدهٔ محل واقعه و نبش قبرمی باشد .

**اشتراک به صفت اهل خبره**

**مادهٔهشتم :**

متخصص طب عدلی به حیث اهل خبره درامورمعاینات وتشخیص مطابق احکام قانون اجراآت جزایی اشتراک نموده، در کشف جرم وبدست آوردن مدارک اثباتیهٔ آن کمک می نماید.

**ارایهٔ توضیحات**

**مادهٔ نهم :**

متخصص طب عدلی مکلف است،

پوليس،څارنوال،قاضي يا نورو قانوني واكمنو مراجعو د غوښتني په وخت كي د خپلو ترتيب كړو پايلو په هكله لازمي څرګندوني وړاندي كړي او د لزوم په صورت كي د محكمي غونډي ته حاضر شي.

## د عدلي طب دمتخصص واک

**لسمه ماده:**

دعدلي طب متخصص دكتنو او تشخيص دسرته رسولو په وخت كي د لاندي واكونو لرونكى دى:

۱-دمختلفو رشتو له متخصصينو څخه د قضيو دكشف په هكله د همكارۍ غوښتنه.

۲-د پوليس ،څارنوال،قاضي يا نورو قانوني واكمنو مراجعو د تصميم په هكله له ذكرشويو مراجعو څخه د لازمو څرګندونو غوښتنه.

حين مطالبهٔ پوليس ،څارنوال ، قاضی یاسایر مراجع ذیصلاح قانونی در مورد نتایج مرتبهٔ خویش توضیحات لازم ارایه نموده ودرصورت لزوم درجلسهٔ محكمه حاضر شود.

## صلاحيت متخصص طب عدلی

**مادهٔ دهم :**

متخصص طب عدلی حين انجام معاينات وتشخيص دارای صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- مطالبهٔ همكاری درمورد كشف قضايا ازمتخصصين رشته های مختلف .

۲- مطالبهٔ توضيحات لازم در مورد تصميم پوليس،څارنوال ، قاضی یاسایر مراجع ذیصلاح قانونی از ادارات مذكور.

## د اضافي معلوماتو وړاندي کول

**يوولسمه ماده:**

که چيري د پوليس ،څارنوا ل، قاضي يا نورو قانوني واکمنو مراجعو لخوا دتحقيقاتو په ترڅ کي دمهمو حقايقو په هکله پوښتني مطرح شوي نه وي،دعدلي طب متخصص مکلف دی،دکتنوله پايته رسيدو وروسته،په رپوټ کي دهغو يادونه وکړي.

## د لابراتواري کتنو لپاره د موادو استول

**دوولسمه ماده:**

دعدلي طب متخصص کولای شي د لابراتواري کتنو د اړتيا په صورت کي د نظروړ مواد د زياتي څيړني لپاره د ټاکلو فورمو په ضميمه اړوند لابراتوار ته واستوي.

## ارايهٔ معلومات اضافی

**مادهٔ يازدهم :**

هرگاه راجع به حقايق مهم در ضمن تحقيقات ازطرف پوليس ، څارنوال ، قاضی يا سايرمراجع ذيصلاح قانونی سوالاتی مطرح نشده باشد،متخصص طب عدلی مکلف است،بعد ازانجام معاينات درگزارش از آن تذکر دهد.

## ارسال مواد غرض معاينات لابراتواری

**مادهٔ دوازدهم :**

متخصص طب عدلی می تواند، درصورت ضرورت،معاينات لابراتواری مواد مورد نظر را جهت تحقيق بيشتر ضم فورمه های معينه به لابراتوار مربوط ارسال کند.

## د رپوټ وړاندي کول

**ديارلسمه ماده:**

د عدلي طب متخصص مکلف دی،د کتنو له سرته رسولو وروسته، عدلي طبي رپوټ او اړونده فورمه د رسمي سند په توګه په دريو نقلونو کي ترتيب او لاسليک کړي، اصل سند اړوندي مرجع ته واستوي اويو نقل يي د عدلي طب په دفتر کي او بل نقل يي د عدلي طب له متخصص سره ساتل کيږي.

## احصائيه اخستنه

**څوارلسمه ماده:**

د عدلي طب دتحقيقي موادو احصائيه اخستنه اوساتل د اړوند متخصص او دعدلي طب د اداري له دندو څخه دي. د دغو موادو دساتني او محوه کولو ډول د جلا لايحي په واسطه تنظيميږي.

## ارايۀ گزارش

**مادۀسيزدهم :**

متخصص طب عدلی مکلف است، بعدازانجام معاينات ، گزارش عدلی طبی وفورمۀ مربوط را بحيث سندرسمی درسه نقل ترتيب وامضاء نموده،اصل سندبه مرجع مربوط ارسال ويک نقل آن به دفتر طب عدلی ونقل ديگرآن نزد متخصص طب عدلی حفظ می گردد.

## احصائيه گيری

**مادۀ چهاردهم :**

احصائيه گيری وحفظ مواد تحقيقی طب عدلی ازوظايف متخصص مربوط وادارۀ طب عدلی می باشد. طرز حفاظت وامحای اين مواد توسط لايحۀ جداگانه تنظيم می گردد.

**د کتنو په اجراء کي د متخصص د ګډون حتمي والی**

**پنځلسمه ماده :**

په لاندي مواردو کي دعدلي طبي کتنو د اجراء کولو په وخت کي د عدلي طب او نورو اړوندو طبي رشتو د متخصصینو ګډون حتمي دی :

۱–له مسلکي سرغړونو څخه را پیدا شوودطبي کارکوونکودلتې (اهمال) تخصصي کتني او تشخیص.

۲–په هغو دوسیو کي چي ترتحقیق یادمحاکمي په دوران کي وي،د درج شوو طبي موادو او نظریو بیا بیاکتني.

۳–دپیچلوپیښنو تخصصي کتني.

**دمسلکي پوهي دسطحي لوړول**

**شپاړسمه ماده :**

(۱) دعدلي طب متخصص، کنیشن اوکارکوونکی مکلف دي، په دوامداره توګه اودعامي روغتیا

**حتمی بودن اشتراک متخصص دراجرای معاینات**

**مادهٔ پانزدهم :**

اشتراک متخصصین طب عدلی وسایر رشته های طبی مربوطه حین اجرای معاینات عدلی طبی در موارد آتی حتمی است :

۱– معاینات وتشخیص تخصصی اهمال کارکنان طبی ناشی از تخلفات مسلکی.

۲– معاینات مکررمواد ونظریات طبی مندرج دوسیه ها یی که تحت دوران تحقیق یامحاکمه قرار دارد.

۳–معاینات تخصصی وقایع پیچیده.

**ارتقای سطح دانش مسلکی**

**مادهٔ شانزدهم :**

(۱) متخصص ،تکنیشن وکارکن طب عدلی مکلف اند، بطور متداوم با همکاری وزارت

دوزارت په همکارۍ دخپلي نظري اومسلکي پوهي سطح لوړه کړي اوپه ورځنيو عملي چاروکي دعدلي طب دخدمتونود اداري له منل شوو علمي اساساتوڅخه پيروي وکړي.

(۲) دعدلي طب طبيبان کولای شي دضرورت په صورت کې او دعدلي طب دخدماتو دادارې په وړانديز دقانون دحکمونو سره سم دطبابت په يوه اساسي رشته کې تخصص لاس ته راوړي .

(۳) دمسلکي اوتخصصي پوهې دسطحی دلوړولو شرايط چې په دې ماده کې درج شوي دی ، دجلا لايحي په واسطه تنظيميږي .

## درېيم فصل

## عدلي طبي کتني

<u>دبل متخصص په واسطه دنظر وړاندي کول</u>

اوولسمه ماده :

دعدلي طبي کتنو اجراء دفعاليت د

صحت عامه سطح دانش نظری ومسلکی خویش را بلندبرده و در امور عملی روزمره از اساسات علمی قبول شدهٔ ادارهٔ خدمات طب عدلی پیروی نمایند.

(۲) اطبای طب عدلی می توانند حسب ضرورت به اساس پیشنهاد ادارهٔ خدمات طب عدلی مطابق احکام قانون دریکی از رشته های اساسی طبابت تخصص بدست آورند .

(۳) شرایط وطرز ارتقای سطح دانش مسلکی وتخصصی مندرج این ماده توسط لایحه جداگانه تنظیم می گردد .

## فصل سوم

## معاینات عدلی طبی

<u>ابرازنظرتوسط متخصص دیگر</u>

مادهٔ هفدهم :

اجرای معاینات عدلی طبی توسط

جوازلرونكي عدلي طب دمتخصص په واسطه صورت مومي.

دعدلي طب دمتخصص دنه موجوديت په صورت كي،دطب د رشتي اړوند متخصص د مسلكي پوهي په حدودو كي مكلف دی پدي هكله نظر څرگند كړي.

## دعدلي طبي كتنو ډولونه

اتلسمه ماده :

عدلي طبي كتني په لاندي كتگوريو ويشل كيږي:

۱–د ژونديو اشخاصو كتني.

۲–د جسدونو كتني.

۳–د اثباتيه مدركونو كتني.

۴–دهغو سندونو كتني چي عدلي طب ته راجع كيږي.

۵–دطبي كاركوونكو له وظيفوي لتي (اهمال) څخه راپيداشوي عدلي طبي كتني.

متخصص طب عدلی دارندهٔ جوازفعالیت صورت می گیرد.

درصورت عدم موجودیت متخصص طب عدلی،متخصص مربوط رشتهٔ طب در حدود دانش مسلکی مکلف است، در زمینه ابراز نظرنماید.

## انواع معاینات عدلی طبی

مادهٔ هجدهم :

معاینات عدلی طبی به کتگوری های ذیل تقسیم می گردد:

۱– معاینات اشخاص زنده.

۲– معاینات اجساد.

۳– معاینات مدارک اثباتیه .

۴– معاینات اسنادیکه به طب عدلی راجع می گردد.

۵– معاینات عدلی طبی ناشی از اهمال وظیفوی کارکنان طبی.

**دبشپړتیایي اوبیابیا کتنو اجراء کول**

**نولسمه ماده :**

(۱)عدلي طبي بشپړتیایي اوبیابیـــا (مکرري) کتني د واکمنو مراجعو د لیکلي غوښتني له مخي په لانـــدي حالاتو کي اجراء کیدی شي:

۱–په هغهٔ صورت کي چي عـــدلي طبي لـــومړنی(مقـــدماتي) کتنـــي وضاحت و نه لري.

۲–په هغهٔ صورت کي چي دعدلي طبي کتنوپایلي د اړوندو مراجعـــو دقناعت وړ ونه گرځي.

(۲)ددي مادي د(۱)فقـــري پـــه (۲)جزء کي په درج شـــووحالاتو کي،موضوع بل متخصص ته(لـــه لومړي متخـــصص پرتـــه) یاهغـــهٔ کمېسیون ته چي دلالـــوړ علمـــي واک خاوند وي (دعـــدلي طـــب ډیپارتمنټ) ته محول کیږي.

(۳)د لومړنیـــو، بـــشپړتیایي،بیابیا

**اجرای معاینـــات تکمیلـــی و مکرر**

**مادهٔ نزدهم :**

(۱)معاینات تکمیلی ومکرر عدلی طبی بالاثر تقاضای تحریری مراجع ذیصلاح در حالات ذیل اجـــراء شده می تواند:

۱– درصورتی که نتیجهٔ مقـــدماتی معاینات عـــدلی طبی،وضـــاحت نداشته باشد.

۲– درصورتی که نتیجهٔ معاینـــات عدلی طبی مورد قناعـــت مراجـــع مربوط قرار نگیرد.

(۲)درحالت منـــدرج جـــزء(۲) فقره (۱)ایـــن مـــاده موضـــوع بـــه متخـــصص دیگـــر(غیـــراز متخصص قبلی) یاکمیسیونی کـــه دارای صلاحیت علمـــی بـــالاتر باشد (دیپارتمنت طـــب عـــدلی) محول می گردد.

(۳) طرز اجرای معاینات عـــدلی

اوکمېسيوني عدلي طبي کتنــود اجــراء ډول دجزايي او مدني اجراآتــود قانون دحکمونو مطابق تنظيمېږي.

**دروغتيايي ادارو د آمرينو مکلفيت**

**شلمه ماده :**

که چيري د عدلي طبي کتنو اجراء د عدلي طــب د خــدمتونو لــه مرکزونو څخه بهرصورت ومومي،د اړوندوروغتيايي ادارو آمرين مکلف دي، د اړتيا وړ مواد او وسايل پــه بشپړه او خوندي توګه د عدلي طب دمتخصص په واک کي ورکړي.

**دنظريي سريزي (مقدمې) محتوي**

**يوويشتمه ماده:**

(۱) دعدلي طبي نظريوســريزه د لاندي مطالبو لرونکي وي:

۱–د عدلي طبي کتنــو د اجــراء کيدو وخت او ځای.

۲–د عدلي طبي کتنــو د اجــراء کيدو په وخت کي رڼا، دتودوخي درجه او هغوته ورته فزيکي شرايط.

طبی مقدماتی، تکمیلی، مکــرر و کمیسیونی،طبق احکــام قــانون اجراآت جزایی و مدنی تنظیم میگردد.

**مکلفیت آمرین ادارات صحی**

**مادۀ بیستم :**

هرگاه اجــرای معاینــات عــدلی طبــی خــارج از مراکزخــدمات طب عدلی صورت گیرد،آمــرین ادارات صحی مربــوط مکلــف اند، مواد و وسایل مورد ضرورت رابه صورت مکمل ومحفــوظ در اختیارمتخصص طب عدلی بگذارند.

**محتوای مقدمۀ نظریه**

**مادۀ بیست ویکم :**

(۱) مقدمۀ نظریات عدلی طبــی، شامل مطالب آتی می باشد:

۱– وقت ومحل اجرای معاینــات عدلی طبی.

۲– شــرایط فزیکــی ازقبیــل روشنی ، درجۀ حرارت وامثال آن حین اجرای معاینات عدلی طبی .

۳-د عدلي طبي کتنــو د اجــراء کیدو غوښتنلیک یا هغه فورمه چي پربنسټ يي کتني ثبتيږي.

۴-د عدلي طب دمتخصص نــوم، تخلص،رتبه او علمــي درجــه او دهغي اداري نوم چي هلته دنــده سرته رسوي.

۵-دمیت یا ژونــدیو اشخاصــو پيژندګلوي (شهرت).

٦-د نورو سندونو او ترلاسه شوو شيانو درجول.

۷- د دوسيي د پرله پسي ګڼــي ، دجلداومخونو (صفحاتو)دشــميرپه ځرګندولو سره د استول شوومواددو او ددوسيي دمشخصاتو تفصيل.

۸-دهغو اشخاصو شهرت چــي د عدلي طبي کتنو دترسره کولو پــه وخت کي حاضر وو.

۹- د عدلي طبي کتنو موخه.

۱۰- دمطرح شووپوښتنو فهرست.

۱۱- د پيښي دکيفيت ، د لومړنيو تحقيقاتو د پايلو،دپيــښي دځــای

۳- تقاضانامۀ اجــرای معاینــات عدلی طبی یا فورمه ای که به اساس آن معاینات ثبت می گردد.

۴- اسم ، تخلص ، رتبه ودرجــۀ علمی متخصص طب عدلی واســم اداره ای که در آن ایفای وظیفــه می نماید.

۵- شهرت میــت یــا اشــخاص زنده .

٦- درج سایراســـناد واشـــیای دست یاب شده .

۷- تفــــصیل مــــواد ارســــالی ومشخصات دوســیه باتوضــیح نمبرمسلسل ،تعداد جلد وصفحات دوسیه.

۸- شهرت اشخاصی کــه حــین اجرای معاینات عدلی طبی حاضر بوده اند.

۹- هدف معاینات عدلی طبی .

۱۰- فهرست سوالات طرح شده.

۱۱- توضیح کیفیت واقعه ، نتایج تحقیقات مقــدماتی ، مــشاهدات

دليدنو او دطبي سندونو د محتوياتو څرگندونه.

۱۲- دهغهٔ شخص دشکايت په پام کي نيول چي کتل (معاينه) کيږي.

(۲)په هغهٔ صورت کي چي ماشوم يا په عقلي يا رواني ناروغی اخته شخص وکتل شي،د هغهٔ د والدينو يا قانوني قايم مقام حضورحتمي دی.

## د عدلي طبي رپوټ محتوی

دوه ويشتمه ماده :

د عدلي طبي رپوټ په تشريح کي د تحقيق ټول پړاوونه او واقعي ارقام شامل وي او له عکس (فوټو)،رسم، سلايداو هغوته له ورته سره يوځای دتحقيق دميتودونو له په پام کي نيولوسره لاندي مطالب احتوا کوي:

۱- دميت عدلي طبي تخصصي کتني چي لاندي موارد پکي شامل وي:

- دجامو رنگ اوڅرنگوالی اود

محل واقعه و محتويات اسناد طبی .

۱۲- درنظرگرفتن شکايت شخصی که معاينه می شود.

(۲) درصورتی که طفل يا شخص مبتلا به مريضی عقلی ياروانی معاينه شود ،حضور والدين يا قايم مقام قانونی وی حتمی می باشد .

## محتوای گزارش عدلی طبی

مادهٔ بيست ودوم :

تشريح گزارش عدلی طبی شامل تمام مراحل تحقيق و ارقام واقعی بوده و با نظر داشت ميتودهای تحقيق توأم باعکس (فوتو) ، رسم ، سلايد وامثال آن مطالب ذيل را احتوا می کند:

۱- معاينات تخصصی عدلی طبی ميت که شامل موارد ذيل می باشد :

- رنگ و چگونگی البسه

**جسد دظاهري ځانګړتياوو (خصوصياتو) شرحه چي دميت د بهرنيو(خارجي) کتنو په وخت کي ليدل کيږي.**

**– د غړودجوفونو اودبدن د انساجود دننه (داخلي) کتنو شرح.**

**– د لابراتواري تحقيقاتو لپاره له ميت څخه داخستل شوو موادو دکتنو شرح.**

**– د ټولو غړ و او انساجو فهرست چي په علمي، ښوونيزو اوخدماتي مقصدونو دميت دوصيت مطابق دغړو دپيوند لپاره له ميت څخه اخستل کيږي، دمرسل اليه مرجع په ذکرولو سره.**

**– دلابراتواري کتنو پايلي.**

**۲– د ژونديو اشخاصو عدلي طبي تخصصي کتني چي لاندي موارد پکي شامل دي:**

**– دجسمي عوارضواو علايمو مفصله شرح.**

**– دجامودعلايمواوهغوآثارو چي**

**وشرح خصوصيات ظاهری جسد که حين معاينات خارجی ميت به مشاهده می رسد.**

**– شرح معاينات داخلی اجواف اعضا وانساج بدن.**

**– شرح معاينات مواد اخذ شده ازميت جهت تحقيقات لابراتواری.**

**– فهرست تمام اعضا وانساج که جهت پيوند اعضا به مقاصد علمی، تعليمی وخدماتی طبق وصيت ميت گرفته می شود، توأم با ذکر مرجع مرسل اليه.**

**– نتايج تحقيقات لابراتواری.**

**۲– معاينات تخصصی عدلی طبی اشخاص زنده که شامل موارد ذيل می باشد :**

**– شرح مفصل عوارض وعلايم جسمی.**

**– شرح مفصل علايم البسه**

وربانديي ليدل کيږي،مفصله شرح.

-دهغو موادو اوشيانو فهرست چي د لابراتواري تحقيقاتو اوکتنو لپاره استول کيږي.

-دلابراتواري کتنوداجراء نېټه او پايلي.

۳-د جرم د اثباتيـــه مدرکونوپـــه تخصصي عدلي طبي کتنوکي لاندي موارد شامل دي:

-د دوسيي دموادو تدقيق اومطالعه.

-د قضيي دڅرنګوالی شرح.

-دطبي سندونو او نـــورو هغـــو سندونو شرح چي په قضيه کي مهم ګڼل کيږي.

## <u>دعدلي طبي رپـــوټ دپـــايلي محتوي</u>

درويشتمه ماده :

دعدلي طبي رپوټ پايله (نتيجـــه) دلاندي مطالبو لرونکي وي:

۱- دعدلي طب له عملي او علمي وروستيو امکاناتو سره متناسب ،د

وآثاريکه بالای آن ديده می شود.

- فهرست مواد واشيائيکه جهـــت تحقيقات ومعاينـــات لابراتـــواری ارسال می گردد.

- تاريخ اجرای معاينات لابراتواری ونتايج آن.

۳- معاينات تخصصی عدلی طبی مدارک اثباتيۀ جرم شامل مـــوارد ذيل می باشد :

- تدقيق ومطالعۀ مواد دوسيه.

- شرح چگونگی قضيه.

- شـــرح اســـناد طبـــی وســـاير اسنادی که درقضيه مهم دانـــسته می شود.

## <u>محتوای نتيجۀ گزارش عـــدلی طبی</u>

مادۀ بيست وسوم :

نتيجۀ گزارش عدلی طبـــی دارای مطالب ذيل می باشد:

۱- تحليل کيفيت واقعه درقسمت تـــشريح متناســـب بـــه آخـــرين

تشريح په برخه کې دپېښې د کيفيت تحليلول.

۲-په څرګنداومشخص ډول دعدلي طبي رپوټ دپايلي ترتيبول.دهغوله واقعي ارقاموسره.

دسريزي،تشريح اوپايلي د وړاندي کولووخت

ځليريشتمه ماده:

(۱)دعدلي طبي رپوټ سريزه او تشريح دتحقيق په بهيرکي او پايله يي د لابراتواري تحقيقاتو له بشپړيدو وروسته برابريږي.

(۲) دعدلي طبي تحقيقاتو په منظور اتوپسي،د جسد داستوونکو مراجعو په غوښتنه او د عدلي طب د متخصص دتصميم پربنسټ دمړيني دعلت تشخيص اوتثبيت ته درسيدو ترپړاوه پوري،دميت د اولياوو په توافق صورت مومي ، مګرداچي مظنون دميت له اولياوو څخه وی .

امکانات عملی وعلمی طب عدلی.

۲- ترتيب نتيجهٔ گزارش عدلی طبی به صورت واضح ومشخص با ارقام واقعی آن.

زمان ارايهٔ مقدمه ،تشريح ونتيجه

مادهٔ بيست وچهارم :

(۱) مقدمه و تشريح گزارش عدلی طبی درجريان تحقيق ونتيجهٔ آن بعدازاکمال تحقيقات لابراتواری تهيه می گردد.

(۲) اتوپسی به منظور تحقيقات عدلی طبی به اساس تقاضای مراجع ارسال کنندهٔ جسد وتصميم متخصص طب عدلی تامرحلهٔ رسيدن به تشخيص وتثبيت علت مرگ،به موافقهٔ اوليای ميت صورت می گيرد مگراينکه مظنون از اوليای ميت باشد.

**دکتني اوتشخيص داجراء موده**

**پنځه ويشتمه ماده :**

عدلي طبي کتني اوتشخيص زيات نه زيات د دريو ورځو په ترڅ کي برابر او اړوندو مراجعو ته استول کيږي.

دمتممه کتنو دايجاب په صورت کي پيچلي موضوعګاني او تخنيکي اواداري معاذير چي دزياتو تحقيقاتو غوښتنه وکړي، دکتنو دبشپړيدو وخت (زمان) په مرکز کي دعدلي طب د رئيس اوپه ولايتونو کي دآمرينو لخوا دحالاتو له پام کي نيولو سره ترپنځه څلويښتو ورځو پوري تمديد اوله څرنګوالي څخه يي اړوندو اصلي مراجعو ته خبر ورکول کيږي.

**مدت اجرای معاینه وتشخیص**

**مادۀ بیست وپنجم :**

معاینات وتشخیص عدلی طبی درخلال حداکثر سه روز تهیه وبه مراجع مربوط ارسال می گردد.

درصورت ایجاب معاینات متممه،موضوعات پیچیده ومعاذیر تخنیکی واداری که ایجاب تحقیقات ومعلومات بیشتررا نماید، زمان تکمیل معاینات درمرکز ازجانب رئیس و در ولایات از طرف آمرین طب عدلی بانظر داشت حالات الی چهل وپنج روز تمدید واز چگونگی آن به مراجع اصلی ذیربط اطلاع داده می شود.

## خلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**هڅوونکی امتیاز**

**شپږویشتمه ماده :**

دفني اومسلکي اشخاصو (په خاصه توګه دښځو)،دهڅوني اوجـذبولو اود عدلي طب په رشته کي د هغو دعلمي پوهي دسطحي دلوړولو او دعدلي طبي ښواوډاډمنو خدمتونود وړاندي کولو په منظور،دعدلي طب مسلکي(خدماتي اوکادري برخي) کارکوونکو،طبي تکنالوژیستانو ، لابرانتانو،مستحضرانو،داتوپسۍ اوامبولاتورۍ دخونو فني کارکوونکواو اجیرانوته دشاقه او روغتیاته دمضرکارپه بدل کي په سلوکي سل(% ۱۰۰) معاش، ماکولات اونور مسلکي اوکادري امتیازونه او اداري کارکوونکوته په سلوکي پنځوس (%۵۰) معاش اوماکولات دهغو له ضمیمو سره

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**امتیازتشویقی**

**مادۀ بیست وششم :**

به منظور تشویق وجذب نمودن اشخاص فنی ومسلکی ( بالخصوص زنان ) ، وارتقای سطح دانش علمی آنها در رشته طب عدلی وعرضه بهتر ومطمئن خدمات عدلی طبی، برای کارکنان مسلکی طب عدلی(بخش خدماتی وکادری) تکنالوژیست های طبی ، لابرانت ها، مستحضران وکارکنان فنی اتاق های اتوپسی و امبولاتوری واجیران صدفیصد (%۱۰۰) معاش،ماکولات وسایر امتیازات مسلکی وکادری دربرابرکارشاقه ومضرصحت وبرای کارکنان اداری پنجاه فیصد(%۵۰) معاش و ماکولات باضمایم آن پرداخته

ورکول کيږي.

**په علمی کادرکي شموليت**

**اووه ويشتمه ماده :**

دعدلي طب متخصصين د اړوندو تقنيني سندونو مطابق په علمي کادرکي شاميليدی شي.

**په کتنو کي د نه ګډون حالات**

**اته ويشتمه ماده :**

که چيري دعدلي طب متخصص پخپله زيانمن ،مدعي ،مدعي عليه، ياشاهد وي اويا له نوموړو اشخاصو سره نسبي يا دنده ايزنږديوالی ولري يا دعدلي طب دمتخصص ګټي په مستقيمه ياغيرمستقيمه توګه په قضيه کي دخيلي وي، په عدلي طبي کتنو کي ګډون نشي کولای.

**دپټو(محرمو)معلوماتو نه افشاء کول**

**نهه ويشتمه ماده :**

که چيري دعدلي طب متخصص د

مي شود.

**شموليت درکادرعلمی**

**مادۀ بيست وهفتم :**

متخصصين طب عدلی مطابق اسناد تقنينی مربوط شامل کادر علمی شده می توانند.

**حالات علم اشتراک درمعاينات**

**مادۀ بيست وهشتم :**

هرگاه متخصص طب عدلی ، خود متضرر، مدعی ،مدعی عليه يا شاهد بوده و يا بااشخاص متذکره قرابت نسبی يا وظيفوی داشته باشد ويا منافع متخصص طب عدلی طور مستقيم ياغير مستقيم در قضيه ذيدخل باشد، در معاينات عدلی طبی اشتراک کرده نمی تواند.

**عدم افشای معلومات محرم**

**مادۀ بيست ونهم :**

هرگاه متخصص طب عدلی

دندي يا دكـــار د دولت پربنـــاء، د دندي د اجراء په وخت كي داسي معلومات لاسته راوړي چي دپټوني وړ وي، مكلف دی ،لـــه قـــانوني مجوز پرته هغه افشاء نكړي.

**دلايحو تنظيم**

**ديرشمه ماده :**

دهيواد له نـــورو روغتيـــايي ادارو سره دعـــدلي طـــب دمتخـــصص همكـــاري اوقـــانوني واكمنـــو مراجعو ته دعدلي طـــب دكتنـــو اســـتول،دجلا لايحـــو مطـــابق تنظيميږي.

**دكتنو داجراء په وخت كـــي دپوليس،څـــارنوا ل او نـــورو اشخاصو حضور**

**يوديرشمه ماده :**

(۱)پوليس ، څـــارنوا ل اومـــدافع وكيل دقانون دحكمونـــو مطـــابق دعدلي طبي كتنو په اجـــراء كـــي ګډون كوي او دعـــدلي طـــب د

بنابروظيفـــه يـــا نوعيـــت كـــار، حين اجـــرای وظيفـــه معلومـــاتی رابدست آورد كه ايجاب محرميت را نمايد،مكلف است ،بدون مجوز قانونی آنراافشاء نه نمايد.

**تنظيم لوايح**

**مادۀ سی ام :**

همكاری متخصص طـــب عـــدلی با ساير ادارات صـــحی كـــشور وارسال معاينـــات عـــدلی طبـــی به مراجع ذيصلاح قـــانونی طبـــق لـــــوايح جداگانـــــه تنظـــــيم می گردد .

**حضور پوليس ،څـــارنوا ل و ساير اشخاص حـــين اجـــرای معاينات**

**مادۀ سی ويكم :**

(۱) پـــوليس ، څـــارنوال ووكيل مدافع طبق احكام قانون در اجرای معاينات عدلی طبی اشتراک نموده ودرصورت اجازۀ متخصص طـــب

متخصص داجازي په صورت كي،نور اړوند اشخاص هم دكتنو په اجراء كي ګډون كولاى شي.

(۲)دعدلي طب متخصص د لزوم په صورت كي كولاى شي، دعدلي طبي كتنو دترتيب په وخت كي له نورو اهل خبره وو څخه هم ګټه واخلي.

## دقانون دحكمونو تطبيق

**دوه ديرشمه ماده :**

دعامي روغتيا وزارت او دعدلي طب دخدمتونو د اداري مؤظفين ، ددي قانون دحكمونو پرتطبيق مكلف دي.

## عدلي تعقيب

**دري ديرشمه ماده :**

كه چيري دعدلي طب دخدمتونو د اداري اړوند متخصص اومؤظف دسپارل شوو دندو په سرته رسولو كي ددي قانون او نورو قوانينو له حكمونو څخه سرغړونه وكړي،

عدلی ،سایر اشخاص ذیربط در اجرای معاینات اشتراک کرده می توانند.

(۲) متخصص طب عدلی درصورت لزوم می تواند، حین ترتیب معاینات عدلی طبی از سایراهل خبره نیز استفاده نماید.

## تطبيق احكام قانون

**مادهٔ سی ودوم :**

وزارت صحت عامه ومؤظفين ادارهٔ خدمات طب عدلی مكلف به تطبيق احكام اين قانون می باشند.

## تعقيب عدلی

**مادهٔسی وسوم :**

هرگاه متخصص ومؤظف مربوط ادارهٔ خدمات طب عدلی درايفای وظايف محوله از احكام اين قانون وسايرقوانين تخلف ورزند ، بانظرداشت

دسرغړوني ډول ته په پام سره دقانون دحکمونومطابق ترعدلي تعقيب لاندي نيول کيږي.

**د اداري مهر**

**څلورديرشمه ماده :**

دعدلي طب د خدمتونو مرکزي اداره او ولايتي اداري يي دځانګړي مهر لرونکي دي چي پکي د افغانستان داسلامي جمهوريت نښان او د اداري نوم حک شوی دی.

**انفاذ**

**پنځه ديرشمه ماده :**

دغه قانون دتوشيح له نيټي څخه نافذ او په رسمي جريده کي دي خپورشي اوپه نافذيدو سره يي د ۱۳۸۵/۱۲/۵ نيټي په (۹۱٦) ګڼه رسمي جريده کي خپور شوی دعدلي طب قانون ملغي ګڼل کيږي.

نوع تخلف طبق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرار می گيرند.

**مهراداره**

**مادهٔ سی وچهارم :**

ادارهٔ خدمات طب عدلی مرکزی وادارات ولايتی آن دارای مهرمخصوص می باشد که درآن نشان جمهوری اسلامی افغانستان و اسم اداره حک گرديده است .

**انفاذ**

**مادهٔ سی وپنجم :**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ ودرجريدهٔ رسمی نشرگردد وباانفاذ آن قانون طب عدلی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۱٦) مؤرخ ۱۲/۵/ ۱۳۸۵ ملغی شمرده می شود.

**اشتراک سالانه :**

**در مرکز و ولایات :        (۸۰۰) افغانی**

**مامورین دولت  :      ۲۵٪  تخفیف**

**متعلمین و محصلین :** (با ارائه تصدیق) **نصف قیمت**

**خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکایی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Law on the sell of immovable properties to diplomatic representations of foreign countries and international organizations .**
- **Forensic medicine law**

**Date: 18th *JUNE.* 2008**

**ISSUE NO :( 947)**